د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

د علمي چارو معاونیت

د کیفیت د لوړوای آمریت

# د علمي آزادي کړنلاره

کال: ۱۴۰۲ هـ

# بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي آزادي کړنلاره

## لومړی فصل

### عمومي احکام

**لومړی ماده:** مبنی: د ملکي لوړو زده کړو قانون د ۳ مادې د ۱۱ بند د حکم په اساس د اناستو پوهنتون لپاره د علمي ازادۍ پالیسي تدوین سوې ده.

**دوهمه ماده:** د علمي ازادۍ تعریف: د ملکي لوړو زده کړو قانون د ۳ مادې د ۱۱ بند د حکم له مخې د منل سویو علمي تګلارو او معیارونو پربنسټ د علمي نظریاتو آزادانه وړاندې کول دي.

**دریمه ماده:** ددې پالیسۍ موخې عبارت دي له:

- په پوهنتون کې د علمي ازادۍ د مفاهیمو نهادینه کول
- په پوهنتون کې د ازادیود مو افقو مواردو تشخیصول.
- په پوهنتون کې د ازادیو د مخالفو مواردو تشخیصول
- په پوهنتون کې د علمي ازادۍ د اړتیاوو تشخیصول.
- د پوهنتون د علمي کادر، کارمندانو او محصلینو د علمي نظریو د آزادانه وړاندې کولو څخه ملاتړ کول.

**څلورمه ماده:** د پوهنتون ژمنتیا او د دې پالیسي د تطبیق ساحه: اناستو پوهنتون علمي ازادۍ ته ژمن دي او له هغې څخه ملاتړ کوي. د علمي کادر غړي حق لري خپل نظریات په ازادانه ډول د اسلامي شریعت او هېواد نافذه قوانینو د حکمونو په نظر کې نیولو سره د پوهنتون په داخل او خارج کې څرګند کړي او د پوهنتون په داخل کې په ټولو غیرسیاسي او علمي مجالسو کې ګډون وکړي او هم له پوهنتونه دباندې خپل فعالیتونه منسجم کړي. دغه پالیسي د اناستو پوهنتون رهبري، علمي کادر غړو، کارکوونکو او محصلینو د علمي ازادۍ په مواردو کې قابل د تطبیق ده.

## دوهم فصل

### د علمي ازادۍ موافق موارد

**پنځمه ماده:** علمي ازادي د علمي کادر د هر غړي او محصلانو ته حق ورکوي چې خپل فکر او نظریات د وینا، لیکنې، الکترونیکي وسایلو، انځور او نورو مروجو لارو له لارې د تحصیلي نهاد په داخل کې له هر ډول ډار او تهدید پرته څرګند کړي. خو په دې شرط چې پورتني موارد د اسلامي شریعت، د هېواد د جزا کود او نورو نافذه قوانینو له مخې جرم نه وي.

**شپږمه ماده:** علمي آزادي د علمي کادر غړو ته حق ورکوي چې خپلې څېړنې د ټولنې د ګټو په نظر کې نیولو سره ترسره کړي او د هغې نتایج څرګند کړي.

**اومه ماده:** پوهنتون د علمي ازادۍ د حفظ او له هغه څخه د ملاتړ په موخه د علمي کادر د غړو او محصلانو څېړنې له هر ډول سانسور پرته په دې خو په دې شرط چې پورتني موارد د اسلامي شریعت، د هېواد د نافذه قوانینو سره په ټکر کې نه وي نشروي.

**اتمه ماده:** علمي ازادي محصلانو او استادانو ته حق ورکوي چې د هغوی د حقوقو د تلف په صورت کې له متخلف څخه د خسارې جبران وغواړي.

## د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي آزادي کړنلاره

**نهمه ماده:** پوهنتون د علمي کادر غړو او محصلانو هغو منطقي او مستدلو نظریاتو ته درناوی کوي چې د پالیسیو او اداري ورانديزونو په مقابل کې يې لري او رهبری، استادانو، کارمندانو او محصلینو ته حق ورکوي چې په ازادنه ډول په مجالسو، کنفرانسونو ، شورا ګانو کې د هېواد د نافذه قوانینو او عمومي ګټو په رڼا کې څرګند کړي.

**لسمه ماده:** علمي ازادي استادانو او محصلانو ته حق ورکوي چې يو د بل نظريات وننګوي او په منطقي استدلال سره هغه تر پوښتنې لاندې راولي همدارنګه علمي آزادي د استاد هغه حق ته چې پر محصل يې د درسي مضمون د زده کړې، يادولو او تمرين په برخه کې لري صدمه نه رسوي.

**يولسمه ماده:** علمي ازادي استاد ته حق ورکوي چې د خپل درسي مضمون محتوی او لوړوزده کړووزارت لخوا منظور سوی تحصیلي نصاب ته په کتو درسي میتود ځانته وټاکي.

**دولسمه ماده:** علمي ازادي د استاد هغه نمرې چې نوموړي د محصل د پار چې د ارزيابی پر اساس له هر ډول تبعيض او تعصب پرته د هغه د لياقت او استعداد له مخې ورکړي حمايت کوي.

**ديارلسمه ماده:** علمي آزادي د علمي کادر د غړو د محاکمې له شفافيت او هغو دلايلو څخه چې د نوموړي پرضد کارول کيږی د داډ او څرګندتيا حق ورکوي.

**څوارلسمه ماده:** علمي ازادي استادانو ته حق ورکوي چې د يو مضمون په محتوياتو کې د کار د بازار د اړتيا په نظر کې نيولو سره د نافذه تقنيني اسنادو په رڼا کې ۲۰ ٪ تعديلات او بدلونونه راولي.

**پنځه لسمه ماده:** د دې علمي ازادی له مخې محصلانو ته حق ورکول کيږي د هغو تصاميمو او اجراتو په مقابل کې خپل نظريات او وړانديزونه چې هغوی ترې اغېزمن کيږي څرګند کړي او د هغوی نظرياتوته درناوی کيږي.

**شپاړلسمه ماده:** علمي آزادي محصلانو ته حق ورکوي چې د نظم او دسپلين په کمېټه کې غړيتوب ولري او د دې کمېټې د چارو له روڼتيا څخه ډاډ ترلاسه کړي او هم علمي ازادي محصلانو ته حق ورکوي چې د استادانو د تدريس د کيفيت په ارزونه کې برخه ولري.

### دريم فصل

**د علمي ازادی مخالف موارد**

**اوه لسمه ماده:** تحصيلي نهاد هېڅ سياستمدار او چارواکو ته حق نه ورکوي چې خپل اسلامي شريعت او عقايد خلاف نظريات پر استادانو او محصلينو تحميل کړي او يا د هغوی په کړنو او څېړنو کې مداخله وکړي. په همدې ډول د علمي کادر غړي هم حق نه لري چې خپل نظريات او عقايد پر محصلينو تحميل کړي يا له داسې وسايلو او لارو چارو کار واخلي چې له مخې يې محصلين په مستقيم يا غيرمستقيم ډول د علمي کادر د غړو نظرياتو او عقايد ومنلو ته اړ سي.

**اتلسمه ماده:** علمي آزادي د محصلانو او استادانو له هغو څرګندونو، نظرياتو، انځورونو، کړنو او ... څخه ملاتړ نه کوي چې له مخې يې د اسلامي شريعت او نافذه قوانين تر پښنو لاندې کيږي.

## د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي آزادي کړنلاره

**نولسمه ماده:** علمي آزادي د علمي کادر د غړو له ډلې څخه د هغو ملاتړ نه کوي چې یواځې درسي مکلفیت ترسره کوي او نور لازم فعالیتونه په کمېټو کې غړیتوب، مجالس، کنفرانسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه، عملي او لابراتواري کارونو، نوښتونو، زده کړو، د ډیپارټمنټ چارو، د کیفیت لوړونې چارې او په ټولنه کې د پوهنتون نقش څخه ډډه کوي او نه یې ترسره کوي.

**شلمه ده:** علمي آزادي د علمي کادر غړو او محصلانو ته اجازه نه ورکوي چې څوک تحقیر، توهین، توبیخ، تهدید ، اذیت او یا هم د هغوی شخصیت ته صدمه ورسوي.

**یویشتمه ماده**: علمي ازادي د پوهنتون رهبري، استادانو، کارکوونکو ته دا حق نه ورکوي چې د پوهنتون تخریب اړونده عملي او نظري اقدامات پورته کړي او نه هم پوهنتون ته دا حق ورکوي چې پرته له مؤجه او مقنع دلایلو د کارمند د دندې مصؤنیت ته صدمه ورسوي یا یې حق وخوري.

**دوه ویشتمه ماده:** علمي آزادي د دې تضمین نه کوي چې د علمي کادر یو ناشایسته او پر درس نامسلط غړی په دایمي ډول په علمي کادر کې پاتې سي او خپلې دندې ته ادامه ورکړي.

**در ویشتمه ماده**: علمي آزادي د علمي کادر د غړو هغو نظریاتو په مقابل کې چې غیري قانوني او غیر اصولي دي له هغوی څخه د پوښتنو ګروېږنو، معلوماتو ترلاسه کولو او ځواب غوښتلو استنطاق، استعلام، استجواب ممانعت نه کوي.

**څلور ویشتمه ماده:** د علمي کادر د غړو او استادانو هغه نظریات چې دوی یې په تلویزیوني، رادیویي او داسې نورو مباحثو کې څرګندوي د پوهنتون استازیتوب نه کوي او دوی مکلف دي چې په مباحثو کې له مخکې څخه څرګند کړي چې دا زما خپل نظر دی او د پوهنتون استازیتوب نه کوي، خو دا چې د پوهنتون له خوا په رسمي ډول په مشخصه یوه موضوع کې چې د پوهنتون نظر پرې غوښتل شوی وي مؤظف سي.

**شپږ ویشتمه ماده:** د علمي ازادي د علمي کادر د استادانو او محصلانو د خلاف چلېدو په صورت کې د هغو ملاتړ نه کوي. مګر لازمه ګڼي چې د شفاف او واضح ثبوت په شتون کې به قانوني کړنه او عادلانه برخورد ورسره وسي.

**پنځه ویشتمه ماده:** د علمي ازادئ دغه پالیسي په دري فصلونو شپږ ویشت مادو کې ترتیب او د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د ۱۴۰۲ کال (۸) ګڼه علمي شورا کې چې په ۳-۸-۱۴۰۲نېټه کې دایره سوې وه تر هر اړخیز بحث څخه وروسته د رایو په اتفاق تصویب سوه.

والسلام